# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af


چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۴مه | ۶۱۱مه گڼه

2 017550 139621


# پر ورانکاریو د ولس اندېښني؛

## وکیلان: د عامه تاسیساتو او گټورو پروژو د ویجاړولو لپاره منظم او پلان شوی کار روان دی






۳

### د تماس ډلې غونډه او د اختلاف د حل تمه

۲ مخ

### چرا طالبان توافقنامه با آمریکا را مبنای مذاکرات صلح با دولت افغانستان قرار می‌دهند؟

۲ مخ


### افغان سوله؛ امریکا د مشر ورور په رول کې

۳ مخ

## کتاب

۴ مخ

### مه وېرېږئ؛ پیل یې کړئ




د کتاب لیکوال وایي: په ۲۰۰۶ میلادي کال کې د کتاب نړیوالې ورځې د مراسمو پر مهال له ما څخه وغوښتل شول، څو د (مه وېرېږئ، پیل یې کړئ) کتاب ولیکم. موخه دا وه چې د لوستونکو لپاره گټور او الهام بښونکي مطالب ولیکم، څو هغوی د لا ډېرو کتابونو لوستلو ته وهڅول شي.

### کرنې وزارت: په کابل کې د مڼو ۶۴ سړې خونې گټې اخیستنې ته وسپارل شوې



د کرنې او مالدارۍ وزارت د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې په کابل ولایت کې د مڼو د ۶۴ صفرانرژۍ سړوخونو رغنیزې چارې بشپړې او گټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دغو سړوخونو له ډلې ۳۵ یې د پغمان، ۱۲ سړې خونې د خاک جبار، ۱۲ یې د شکردرې، څلور یې د چهار آسیاب په ولسوالۍ کې او د مڼې یوه صفر انرژۍ سړه خونه د بگرامیو په ولسوالۍ کې جوړ شوې دي. د مڼو دغه صفر انرژۍ سړې خونې هر یوه یې د څه باندې دوه میلیونه او ۶۲۲ زره افغانیو په لگښت په پاخه او اساسي ډول رغول شوې دي. د دغو سړوخونو د جوړولو لس سلنه لگښت د برخمن شویو بزگرانو او ۹۰ سلنه لگښت یې د کرنې وزارت له خوا ورکړل شوی دی. د یادونې ده چې له دغو سړو خونو، هره یوه یې د ۲۵ مېټریک ټنه مڼو د ساتنې وړتیا لري.

### نیویارک ټایمز: ټرمپ رایې خپلوي، د ځواکونو ایستلو موضوع عملي نه ښکاري


نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې د یو راپور په خپرولو سره له افغانستان او عراق څخه د ځواکونو ایستلو په اړه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ خبره، انتخاباتي شعار بللی دی.

نیویارک ټایمز د منځنۍ اسیا د چارو شنونکي ډانا سټرول له قوله ویلي، په داسې حال کې چې د امریکا ولسمشرۍ ټاکنو ته د گوتو په شمېر ورځې پاتې دي او ټرمپ په کور دننه له ډېرو ننگونو سره مخ دی، له افغانستان او عراق څخه د ځواکونو وتلو په اړه تودې خبرې کوي او له دې داسې ښکاري چې ټرمپ د تل په څېر یو ځل بیا د خپلو خلکو د تېرایستلو لپاره دا څرگندونې کوي چې تر ډېره عملي نه ښکاري.

هغه زیاته کړې، امریکا چې په افغانستان کې یې د ټریلیونونه ډالرو لگښت ترڅنگ په دغه هېواد کې ستره قرباني ورکړې، فکر نه کوي چې د سپینې ماڼۍ سیاست جوړوونکي دې نوموړي ته د افغانستان په څېر د ستراتېژیکې سیمې پرېښودلو اجازه ورکړي. هغه ویلي، ټرمپ هڅه کوي په دې ډول څرگندونو ځان خپلو وگړو ته وفادار معرفي کړي او په راتلونکو ټاکنو کې د خپلو رایو پله درنه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې له طالبانو سره د شوې هوکړې له مخې، له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو د ایستلو لړۍ چټکۍ سره روان ده او ټرمپ څه موده مخکې وویل چې د کرېسمېس تر رارسېدو پورې به خپل ټول پوځیان له افغانستان څخه خپل هېواد ته راستانه کړي.

### پر هلمند د طالبانو بریدونه د سولې هوکړې خلاف دي، ژر تر ژره دې ودرول شي



۵ مخ

### پس از دوازده روز توقف، گروه‌های تماس حکومت و طالبان در دوحه روی موارد اختلافی بحث کردند



پس از دوازده روز توقف گفتگوها میان هیات‌های مذاکره کنندۀ جمهوری اسلامی افغانستان و گروه طالبان، گروه‌های تماس دوجانب شام دوشنبه نشست‌های شان را از سر گرفتند.

ناجیه انوری، سخنگوی وزارت دولت افغانستان در امور صلح با فرستادن پیامی به رسانه‌ها گفت که دوجانب روی موارد اختلافی بحث‌های جدی کرده اند. خانم انوری افزود: «توافق شد تا برای حل آن (موارد اختلافی) جلسات ادامه یابد».

به نظر می‌رسد که این نشست‌ها پس از سفر زلمی خلیلزاد، نمایندۀ ویژۀ ایالات متحده امریکا در امور مصالحۀ افغانستان به قطر و دیدار با دوجانب گفتگوهای صلح افغانستان، بار دیگر از سر گرفته شده است.

صدیق صدیقی، سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان نیز روز یکشنبه گفت که هرآنچه برای آغاز مذاکرات لازم بود، حکومت این کشور انجام داده است.

آقای صدیقی افزود: «ما یک بار دیگر بالای طالبان صدا می‌کنیم که وقت این رسیده که از جنگ دست بکشند و به مذاکراتی که در دوحه است ادامه بدهند و با هیات جمهوری اسلامی افغانستان مواردی که وجود دارد، بحث بکنند تا مردم افغانستان بیشتر نسبت به ختم جنگ و خونریزی امیدوار شوند».

این در حالی است که هیات‌های مذاکره کنندۀ جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان گفتگوها را روی ترتیب اصول مذاکرات از حدود چهارهفته به این طرف در دوحۀ قطر آغاز کرده؛ اما هنوز به نتیجۀ مطلوب دست نیافته اند.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریـــځ

## د تماس ډلې غونډه او د اختلاف د حل تمه

لـه څـو ورځـني ځنډ وروسـته پـه دوحـه کـې د طالبانـو او حکومت د مذاکـراتي ټيمونو د تمـاس ډلـې ترمنځ ناسـته شـوې چـې پکـې د بيـن الافغاني خبـرو د اصولـو او کړنلارې پـر اختـلافي مـواردو بحث شـوی دی. کـه څه هم ويـل شـوي چـې اختـلاف لا پـر ځـای دی، خـو دواړو اړخونـو ټينگار کـړی چـې د اختـلاف د حـل لپـاره بـه غونـډې روانـې ساتي. شـاوخوا دوولـس ورځـې د تماس ډلـې رسـمي ناسـته نه وه کـړې او يـوازې غيـر رسـمي ليدنـې کېدلې، خو د امريکا د فشـارونو او د ځينو نورو هېوادونو پـه غوښـتنه يـو ځـل بيـا رسـمي غونـډې پيـل شـوې دي.

پـه دوحـه کـې د تمـاس ډلـې خبـرې لـه هغـه وروسـته پيلېـږي چـې پـه ټـول افغانسـتان کـې د سـختو جگـړو او نښـتو خبرونـه ورکـول کېږي چـې پـه دې وروسـتيو کـې تمرکـز پـر هلمنـد و او دواړو اړخونـو يـو بـل تـه د درنـو تلفاتـو اړولـو ادعـاوې هـم کـړې دي. د سـولې پـه خبـرو کـې پرمختـگ پـه طبيعـي ډول پـر جگـړه اغيـز کوي او جگـړه بـه ورسره کمېـږي، خو د خبـرو درېدل او پکـې سـتونزې د جگـړې د زياتـوالي سـبب کېـږي، ځکـه چـې دواړه اړخونـه بـه پـر يـو بل د فشـار لپـاره نظامـي لاره کاروي. دا طبيعـي ده چـې خبـرې بـه ډېـر وخـت اخلـي، خـو ورسره تمـه دا ده چـې د خبـرو دوام بـه د سـولې لاره پرانيسـتې پرېږدي او د جگـړې منطق بـه کمـزوری کـړي او ورو ورو بـه جگـړه پيکـه شي. لـه همـدې املـه خلـک د سـولې خبرو تـه هيله مـن دي او د دغـو خبـرو پـر دوام او پرمختـگ خوشـاله کېـږي.

لـه بلـه اړخـه دواړه اړخونـه بايـد درک کـړي چې سـوله او جوړجـاړی نـه يـوازې د ولـس غوښـتنه ده، بلکـې د دوی پـه گټـه هـم ده او د دواړو اړخونـو ډېـری بهرنـي ملاتـړي هـم غـواړي چې دا خبـرې بريالـی شي. لـه همـدې کبلـه دوی لـه خبـرو پرتـه بلـه لاره نـه لـري. ښـکاره ده چې پـه دې خبـرو کـې بـه کلـه يـو اړخ او کلـه بـل اړخ د ځينـو غوښـتنو پـه مطـرح کولـو سره ځنډ جـوړوي، خـو وروسـته بـه د بهرنيانو په فشـار له هغو غوښـتنو تېرېـږي او جوړجـاړی بـه کوي. دا واضـح ده چـې دواړه اړخونـه محکـوم او مجبـور دي چـې جوړجـاړی وکـړي. سرې کرښـې بـه ماتيـږي او ډېـر هغـه څه بـه منل کېـږي چې تر اوسـه نـه دي منل شـوي. لـه همدې املـه دواړه اړخونـه دې هغـه څـه نـه مطـرح کـوي چـې نـه منـل کېـږي او يا هم وروسـته تـرې تېرېږي. که دوی د چنـو وهلـو لپـاره داسـې مسـايل مطـرح کـوي، ښـايي دوی تـه موقتـه گټـه وکـړي، خـو ولـس تـه زيـان کـوي او وروسـته بـه د دوی پـه زيـان هـم تماميـږي. مـوږ وليدل چـې حکومت لـه ډېـرو سرو کرښـو تېـر شـو، بنديـان يـې خوشـې کـړل او ډېـر نـور څه يـې ومنـل. طالبان هـم مجبور شـول چـې د حکومت لـه پلاوي سره کېنـي. نـو ښـکاره ده چـې لـه ډېرو نورو مسـايلو بـه هـم تېرېـږي. د دوی دريـځ دايمـي نـه دی، دوی بـه خپـل دريـځ بدلـوي، خو سـتونزه دا ده چـې هغـه وخـت چـې دوی پکـې دريـځ بدلوي، د گڼـو افغانانـو ژوند اخلي او خپلـه دواړو اړخونو تـه هـم زيـان رسـوي. لـه همـدې املـه پـکار ده چـې پـر جوړجـاړي تمرکـز وشي او دواړه لـوري هغـه څـه ومنـي چـې وروسـته يـې منلـو تـه اړ کېـږي.

# چرا طالبان توافقنامه با آمریکا را مبنای مذاکرات صلح با دولت افغانستان قرار می‌دهند؟

علی حسینی- بی بی سی

در دو هفتـه قبـل از آن و پـس از مراسـم افتتاحیـه مذاکـرات صلـح افغانسـتان گفت‌وگوهای‌شـان نتیجـه‌ای در بـر نداشـت. در ایـن مـدت امـا تماس‌هـای غیـر رسـمی دو هیئـت کـه هـر دو در یـک هوتـل حضـور دارنـد، جریـان داشـته اسـت.

اختـلاف بـر سـر مبنـای مذهبـی مذاکـرات و پذیـرش توافق‌نامـه دوحـه بیـن ایـالات متحـده آمریـکا و طالبـان به‌عنـوان ناظـر بـر مذاکـرات فعلـی قطـر نشسـت‌های دو جانبـه را بـا «بن‌بسـت» مواجـه کـرده اسـت؛ گرچـه هـر دو طـرف بـا اسـتفاده از کلمـه بن‌بسـت موافـق نیسـتند و می‌گوینـد: وضعیـت بـا یـک نـوع رکـود مواجـه شـده اسـت.

موضـوع اصلـی ایـن اسـت کـه چـرا طالبـان تاکیـد می‌کننـد کـه موافقت‌نامـه دوحـه بایـد مبنـای مذاکـرات قطـر باشـد؟

بـه بـاور بسـیاری در مثلـث طالبـان، آمریـکا و دولـت افغانسـتان، بیشـترین فایـده از ایـن توافق‌نامـه را طالبـان بـه دسـت آورده‌انـد و کمتریـن فایـده از آن دولـت افغانسـتان شـده اسـت.

طالبـان می‌گوینـد کـه توافق‌نامـه صلـح ایـن گـروه بـا آمریـکا، زمینـه مذاکـرات صلـح افغانسـتان در قطـر اسـت.

بـه گفتـه حبیـب‌زاده سـمنگانی، فعـال رسـانه‌ای نزدیـک بـه طالبـان «توافق‌نامـه دوحـه اعتبـار جهانـی دارد و بـا حضـور نماینـدگان تقریبـاً ۳۵ کشـور امضـا شـده و مـورد تائیـد شـورای امنیـت سـازمان ملـل متحـد اسـت؛ این‌کـه «اداره کابـل» نمی‌خواهـد اسـاس مذاکـرات بین‌الافغانـی پیـمان دوحـه باشـد، بـه ایـن دلیـل اسـت کـه می‌خواهنـد حیثیـت‌اش کـم نشـان داده شـود و آن‌را توافق‌نامـه‌ای بیـن آمریـکا و یـک گروهـک کوچـک عنـوان کننـد.»

بـه گفتـه آقـای سـمنگانی، اگـر توافق‌نامـه دوحـه مبنـای مذاکـرات قطـر در نظـر گرفتـه نشـود، در این‌صـورت ایـن توافق‌نامـه بـه دو بخـش خلاصـه می‌شـود؛ یکـی این‌کـه طالبـان نمی‌گذارنـد از افغانسـتان علیـه آمریـکا و هم‌پیمانانـش سوءاسـتفاده شـود و دیگـر این‌کـه نیروهـای آمریـکا از افغانسـتان خـارج شـوند. در این‌صـورت موقـف طالبـان ایـن خواهـد بـود کـه چـون هنـوز نیروهـای خارجـی در افغانسـتان حضـور دارنـد و «اشـغال» دوام دارد، پـس تاکنـون فرصـت گفت‌وگوهـای بین‌الافغانـی نرسـیده اسـت.

**توافق‌نامه دوحه و انتخابات آمریکا**

بـه گفتـه سـمیع‌الله یوسـفزی، خبرنـگار افغـان کـه مسـائل جنـگ و صلـح افغانسـتان را از نزدیـک دنبـال می‌کنـد، نگرانـی طالبـان پیـروزی جـو بایـدن، رقیـب انتخاباتـی دونالـد ترامـپ، رئیـس جمهـوری آمریکاسـت.

**انتخابات آمریکا تا دو هفته دیگر، در تاریخ ۳ نومبر برگزار می‌شود.**

آقـای یوسـفزی می‌گویـد، طالبـان بـاور دارنـد کـه پیـروزی ترامـپ بـه معنـای ایـن اسـت کـه رونـد صلـح و توافـق صلـح ایـن گـروه بـا طالبـان دچـار مشـکل نخواهـد شـد و بـه سـرانجامـی می‌رسـد، امـا اگـر احیانـاً بایـدن وارد کاخ سـفید شـود، مسـئله‌ای نگران‌کننـده بـرای طالبـان خواهـد بـود؛ چـرا کـه جـو بایـدن در زمـان ریاسـت‌جمهوری بـاراک اوبامـا بـر سـر شـماری از سیاسـت‌گزاری‌هایی کار می‌کـرد کـه بخشـی از آن مقاومـت علیـه «تروریـزم» در بیـرون از مرزهـای آمریـکا بـود.

بـه نظـر می‌رسـد کـه همیـن نگرانـی از انتخابـات آمریـکا پشـت میـز مذاکـرات در قطـر هـم بی‌تاثیـر نبـوده و از این‌رو طالبـان اصرارشـان بـر ایـن اسـت کـه توافـق دوحـه ناظـر بـر مذاکـرات فعلـی قطـر باشـد، بـا ایـن اقـدام موضع‌شـان در مذاکـرات قطـر بیشـتر مسـتحکم خواهـد شـد.

**رهایی زندانی‌ها**

مفـاد توافق‌نامـه دوحـه آن‌طـور کـه در قطـر برنامه‌ریزی‌شـده بـود، در کابـل تطبیـق نشـده اسـت. قـرار بـود کـه پنـج هـزار زندانـی طالبـان قبـل از ۱۰ مـارچ ۲۰۲۰ آزاد شـوند، امـا دولـت افغانسـتان چنـان بـا تعلـل در ایـن زمینـه اقـدام کـرد کـه پنـج مـاه بعـد عملـی شـد. بـر اسـاس توافق‌نامـه دوحـه عـلاوه بـر رهایـی پنـج هـزار زندانـی طالبـان و یـک هـزار زندانـی نیروهـای امنیتـی افغـان، هـر دو طـرف ظـرف سـه مـاه بایـد تمامـی زندانی‌هـای یک‌دیگـر را رهـا می‌کردنـد؛ امـا ایـن رونـد بـا وقـت آغـاز نشـد.

بـا قاطعیـت می‌تـوان گفـت کـه دولـت بـا اکـراه تمـام بیـش از پنـج هـزار زندانـی طالبـان را آزاد کـرد. طالبـان می‌داننـد کـه در گرماگـرم مذاکـرات قطـر و جنجال‌هـای زیـاد مربـوط بـه آن، اگـر بـه توافق‌نامـه دوحـه بی‌توجهـی شـود، از رهایـی زندانی‌هـای باقی‌مانـده ایـن گـروه خبـری نخواهـد بـود. به‌ویـژه این‌کـه در گذشـته دولـت پنـج هـزار زندانـی طالبـان را بـا امـا و اگرهـا و تاخیـر زیـادی آزاد کـرد. در حـال حاضـر گفتـه می‌شـود کـه نزدیـک بـه هشـت هـزار زندانـی ایـن گـروه در بنـد دولـت هسـتند. بـه همیـن دلیـل تاکیـد می‌کننـد کـه توافق‌نامـه دوحـه مبنـای مذاکـرات قطـر باشـد.

مـوارد دیگـری هـم در توافق‌نامـه دوحـه مربـوط بـه مذاکـرات بین‌الافغانـی وجـود دارد کـه بـه نفـع طالبـان اسـت و ایـن گـروه بـا اسـتفاده از آن می‌توانـد بـه مراتـب بیشـتر از گذشـته از توافـق دوحـه سـود ببـرد؛ از جملـه این‌کـه بـا آغـاز مذاکـرات صلـح در قطـر آمریـکا بایـد تحریم‌هـا علیـه اعضـای گـروه طالبـان را بررسـی کـرده و در صـورت پیشـرفت در ایـن «مذاکـرات بین‌الافغانـی»، تحریم‌هـا علیـه طالبـان برداشـته شـود.

مـورد دیگـر ایـن اسـت کـه بـر اسـاس توافق‌نامـه دوحـه آمریـکا و طالبـان در پـی ایجـاد روابـط مثبـت بـا یکدیگـر هسـتند و گفتـه شـده کـه انتظـار مـی‌رود روابـط «دولـت اسـلامی جدیـد افغانسـتان» کـه پـس از مذاکـرات بین‌الافغانـی ایجـاد خواهـد شـد، بـا آمریـکا مثبـت باشـد. فـارغ از این‌کـه هیئـت دولـت افغانسـتان نیـز طرف‌دار اسـلامی‌بودن نظـام آینـده افغانسـتان اسـت، امـا مشـخص اسـت کـه نوعیـت نظـام را قبـل از آن‌کـه در مذاکـرات بـر سـر آن حتـی کلمـه‌ای بیـان شـود، آمریـکا و طالبـان و بـه احتـمال نزدیـک بـه یقیـن بـه توصیـه طالبـان چنـد مـاه پیـش نهایـی کردنـد.

در ۱۰ حـوت سـال گذشـته زمانی‌کـه مـلا بـرادر معـاون گـروه طالبـان و زلمـی خلیـل‌زاد، نماینـده ویـژه آمریـکا در مذاکـرات هجـده مـاه بـا حضـور مایـک پومپیـو، وزیـر خارجـه ایـن کشـور توافق‌نامـه صلـح را امضـا کردنـد، شـیرمحمد عبـاس اسـتانکزی، رئیـس وقـت دفـتر سیاسـی طالبـان در قطـر ایـن امضـا را امضـای «خـروج نیروهـای اشـغالگر و پیـروزی طالبـان» عنـوان کـرد.

باتوجـه بـه ایـن نـوع نـگاه بـه توافـق دوحـه و رابطـه آمریـکا و افغانسـتان از دیـد طالبـان، مشـخص اسـت کـه مبنـا قراردادن آن در مذاکـرات جـاری تـا چـه انـدازه موضـع طالبـان در تاخـت علیـه هیئـت دولـت افغانسـتان را قوی‌تـر خواهـد سـاخت.

از دیـد یکـی از اعضـای هیئـت افغانسـتان در قطـر، اصـرار طالبـان در ایـن زمینـه از آن‌جهـت اسـت کـه آن‌هـا می‌تواننـد بـا اسـتفاده از آن قرائـت خـود را حاکـم سـازند و اگـر قـرارداد دوحـه ناظـر بـر مذاکـرات قطـر نباشـد «قرائـت آن‌هـا می‌شـکنند».


## جیلاني: نړیواله ټولنه دې له طبیعي پېښو سره د مبارزې په برخه کې له افغانستان سره مرستې ډېرې کړي

له طبيعي پېښو سره د مبارزې وزارت ۲۰۲۰ ز کال د طبيعي پېښو له اړخه ښه کال نه بولي او له نړيوالې ټولنې غواړي چې له دې اداري سره مرستې ډېرې کړي.

د دغه وزارت چارواکو په کابل کې(د پېښو د خطرونو د کمولو نړېوالې ورځې) په نمانځغونډه کې وويل، چې روان په نږدې ۱۵ ولايتونو کې سختو سيلابونو او ورښتونو د گڼ شمېر افغانانو ژوند واخيست.

له طبيعي پېښو سره د مبارزې په برخه کې د افغان دولت وزير غلام بهاوالدين جيلاني وويل، سره له دې چې کرونا ويروس په ۲۰۲۰ز کال کې په افغانستان کې گڼ شمېر کسان ووژل، خو طبيعي پېښو هم په دغه کال له افغانانو زياته قرباني واخيسته. نوموړي په افغانستان کې د زياتو سيلابونو د راتگ دلايل هم په ډاگه کړل.

هغه زياته کړه: «ولې په افغانستان کې طبيعي پېښې ډېرې زياتې پېښېږي؟ د ځنگلونو قطع کول او د شنو ساحو له منځه وړل هغه څه دي چې زموږ افغانان يې له بده مرغه په زغرده دغه چاره ترسره کوي، همداشان يو بل دليل چې سيلابونه ډېر ورانی رامنځته کوي، د سيندونو غاړو د ځمکو غصب دی، يو شمېر کسان په دغو غصب شويو ځمکو کې خپلسري او غير معياري کورونه جوړوي چې بالاخره د سيلابونو له راتگ سره له خلکو قرباني اخلي.»




جيلاني وايي، د راتلونکي ژمي لپاره وزارت او ټولو دولتي ادارو د طبيعي پېښو د رامنځته کېدو په برخه کې لازم چمتووالی نيولی دی.

له طبيعي پېښو سره د مبارزې په برخه کې د افغان دولت وزارت د معلوماتو له مخې، دغه وزارت په ۲۰۲۰ ز کال کې د سيلابونو او ببړنيو حالاتو د کنټرول لپاره د ۶۰۰ ميليونه افغانۍ وړاندوينه کړې وه، خو له رامنځته شويو ببړنيو حالاتو سره دغه وزارت وايي چې تقريباً دغه پيسې مصرف شوې دي.

د وزارت د معلوماتو پر بنسټ، حکومت چې د ببړنيو حالاتو لپاره يو مېليارد افغانۍ ځانگړې کړې وې، د ۶۰۰ ميليونو افغانيو په مصرفولو سره ۴۰۰ ميليونه افغانۍ پاتې دي.

د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، پاتې ۴۰۰ ميليونه افغانۍ د راتلونکي ژمي او ببړنيو حالاتو لپاره کافي نه وې.

جيلاني په راتلونکي کې د طبيعي پېښو د رامنځته کېدو د ښه مخنيوي لپاره له ټولو نړيوالو مرسته کوونکو هېوادونو او بنسټونو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.

په ورته وخت کې په افغانستان کې د ملگرو ملتونو پراختيايي اداري د طبيعي پېښو د ستراتيژۍ رييس عبدالله الدردری چې په دې غونډه کې يې گډون درلود، د اړينو همکاريو ډاډ ورکړ.

هغه زياته کړه: «موږ او اغاخان بنسټ دلته يو چې په گډه له افغان حکومت او ادارو سره د دغې ستونزې د راکمېدو په برخه کې کار وکړو او افغان حکومت ته اړتيا ده چې په دې برخه کې خپلې ټولې اړتياوې او فرصتونه معلوم کړي، موږ له افغان حکومت او نورو همکارانو سره يې د گډ کار لپاره چمتو يو.»

# افغان سوله؛

## امریکا د مشر ورور په رول کې

سیدالرحمن سالار

په دوحه کې د بین الافغاني خبرو نامعلوم برخلیک، هلمند کې جگړه او د امریکا شیطاني رول ته په پام سره د افغانستان راتلونکې ډېره پیکه او تیاره ښکاري.
امریکا له یوې خوا له طالبانو سره موافقه کړې او ظاهراً یې د همدې موافقې پر بنسټ له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو وتل پیل کړي، د افغان دولت او طالبانو تر شپږ زره ډېر بندیان تبادله شول او بین الافغاني خبرې پیل شوې او په دې سره له افغان ولس سره د سولې په اړه هیلې لا ډېرې شوې او تمه وه چې په هېواد کې د تل لپاره جگړه ختمه شي.
خو اوس چې په دوحه کې د افغان مرکچیانو(دولت او طالبانو) تر منځ د خبرو لپاره د طرزالعمل جوړېدو پر سر د اختلاف له امله دغه بهیر تقریباً له بندون سره مخ شوی او امریکا د مشر ورور په رول کې کله له یوه ټیم سره او کله له بل ټیم سره پټې او ښکاره خبرې کوي او بیا د رسنیو له لارې افغانانو ته نصیحتونه کوي، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ټولو گډوډیو مسوولیت د امریکا پر غاړه دی، ځکه دا ټولې گډوډۍ د دوی د یرغل په نتیجه کې رامنځ ته شوې او په میلیونونو افغانان زیانمن شوي، نو امریکا باید افغانانو ته د جگړې تاوان ورکړي، نه دا چې دوی د مشر ورور په رول کې هرڅه د افغانانو پر غاړه واچوي.
امریکا د افغانستان مسئلې ته یوازې د خپلو گټو له زاویې گوري او په حقیقي او معقول ډول د دغه هېواد لپاره امن نه غواړي.
د امریکا لپاره یوازې دا مهمه وه چې د خپل هېواد او نړۍ د عامه افکارو غولولو لپاره یوه توجیه پیدا کړي، چې گواکې دوی د افغانستان دایمي نیواک نه غواړي او خپل پوځیان هم وباسي، خو افغانان خپل منځ کې نه سره جوړېږي.
له بده مرغه چې امریکا د افغانستان لپاره په خپلو شیطاني سناریو کې تر ډېره بریالۍ هم ده.
دوی اوس ظاهراً د لوبې توپ د افغانانو میدان ته ور غورځولی او دا نو اوس د افغانانو په پوهې او ورتیا پورې اړه لري چې دغه توپ څنگه د ځان په گټه وکاروي او په څه ډول د امریکا منگلې له دې خاورې په رښتیني مانا لنډې کړي.
دواړه افغان لوري دې افغانستان ته احتمالي خطرونه په پام کې ونیسي، نه دې طالبان داسې فکر کوي چې که امریکایان ووتل، نو له (چون و چرا) پرته به دوی واک ته ورسېږي او نه دې اوسني دولتي چارواکي دا خیال کوي چې طالبان به تسلیم او هرڅه به حل شي.
ځوک په دې سترگې نشي پټولای چې د طالبانو مقاومت امریکا ظاهراً له افغانستان څخه په مشروط ډول د خپلو ټولو پوځیانو وتلو منلو ته اړ کړي، خو دا چې امریکا افغانستان ته نور څه پټ پلانونه لري، تر اوسه ځوک نه پوهېږي.
خو د دغه هېواد پر شیطانت باید ځوک شک ونه کړي، د امریکا شیطانت، د افغانستان جغرافیایي موقعیت، ډلو ټپلو او ځینو گاونډیو ځان غوښتنو ته په پام سره دا ناممکنه ښکاري، چې طالبان دې په یوازې سر حکومت جوړ کړي او هم دا ناممکنه ښکاري چې افغان دولت دې له طالبانو پرته په ډاډه زړه واک ته دوام ورکړي.
د رسنیو د راپورونو له مخې، اوس د طالبانو او دولت مرکچي ټیمونو تر منځ د بین الافغاني خبرو د طرزالعمل پر سر یوازې په دې اړه اختلاف موجود دی، چې طالبان وایي د دوی او امریکا تر منځ شوې موافقه دې د بین الافغاني خبرو اساس وي، خو دولت دا نه مني.
زما په اند که دواړه لوري پلمې نه لټوي او په رښتیا د یوه معقول حل په لټه کې وي، نو دا ډېره غټه ستونزه نه ده او حل یې اسانه دی او که پلمې جوړول وي؛ نو بیا که دا یوه حل شي، حتماً به بله پلمه هم را پیدا کېږي.
خو دواړه لوري دې پر دې پوه وي چې وخت کم او مسوولیتونه یې ډېر دي او باید ژر ژر یې حل کړي او له ستونزو څخه د وتلو لپاره یوه معقوله لار پیدا کړي.
شک نشته چې که له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل یقیني شي، د عراق په شان به دلته هم ډېرې وړې ډلې ظهور وکړي، هم به د طالبانو او هم به د دولت لپاره درد سر جوړ کړي او که دواړه لوري همدا اوس له تعقل څخه کار وا نه خلي؛ نو د راتلونکو بدمرغیو مسوولیت به یې پر غاړه وي.
ډېر خلک د فاطمیون ډلې نوم اخلي، که څه هم تر اوسه یې په افغانستان کې موجودیت نه دی اعلان شوی، خو که د عراق موضوع ته پام وکړو، امریکا له عراق څخه د وتلو په حال کې ده، ځای یې هغه ځوک نه نیسي چې کلونه کلونه د امریکا خلاف وجنگېدل، بلکې اوس هلته داسې ځوک واک ته د رسېدو په درشل کې دي چې له امریکا سره یې مخامخ هېڅ جگړه نه ده کړې، دا چې دغه سناریو به د امریکا د پلان برخه وي او قصداً به واک همدې خلکو ته ورکوي او که به د مقابل لوري هوښیاري وي چې وتوانید ځان همداسې یوه فرصت ته قوي وساتي، له امریکا سره د جگړو قربانۍ نورو ورکړې او دا دي اوس واک دوی ته رسېږي؛ په دې اړه قضاوت له وخته مخکې دی، خو د افغانانو لپاره یوازې دغه پیغام لري چې د افغانستان مسئله د امریکا له وتلو وروسته یوه بل پړاو ته د داخلېدو خطر له ځان سره لري، نو ځکه دواړو لوریو ته پکار ده چې د سولې خبرو له شته فرصت څخه اعظمي گټه پورته کړي او په داسې حساس پړاو کې د جگړو شدت د هېچا په گټه نه دی، بلکې یوازې امریکا ته د پاتې کېدو پلمه په لاس ورکوي.

# پر ورانکاریو د ولس اندېښنې؛

## وکیلان: د عامه تاسیساتو او گټورو پروژو د ویجاړولو لپاره منظم او پلان شوی کار روان دی



په هېواد کې له شته ویجاړیو سره په سیستماتیکه توگه د لا ډېرو ویجاړولو او ورانیو لپاره کار روان دی. په وروستیو ورځو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د جگړو له امله ډېر عامه تاسیسات ویجاړ شوي دي او دغه راز په سیستماتیکه توگه د هغو عامه پروژو او بنسټیزو تاسیساتو ویجاړول روان دي، چې د دې هېواد او خلکو راتلونکې ورسره تړلې ده. د ولسي جرگې ځینې غړي بیا پر دې بهیر جدي اندېښنه ښیي او په خبره یې، دغه ډول ورانکاري فعالیتونه د یوه ستر او منظم پلان برخه دي چې د هېواد د دښمنانو له لوري طراحي شوي دي.
له څو ورځو راهیسې په هلمند کې خونړۍ جگړه روانه ده. د دې جگړو له امله انساني تلفات اوښتي، خو تر څنگ یې عامه تاسیساتو او ټولگټو پروژو ته هم زیانونه رسېدلي دي. وسله والو طالبانو د برېښنا پر یوه سب سټېشن برید کړی دی چې په دغه سب سټېشن کې شته توکو ته یې اور ورته کړی دی. د هلمند د برېښنا ریاست مسوولین وایي چې له دغه سب سټېشن کندهار او هلمند ته برېښنا ورکول کېده، چې زرگونه کسان ترې مستفید کېدل؛ خو د طالبانو په برید کې یې توکي سوځول شوي، ۱۵ کارکوونکي یې تښتول شوي او پنځه کانټېنره نور توکي یې هم د اور خوراک شوي دي. طالبانو بیا دا ادعا رد کړې ده.
د دې تر څنگ، څه موده وړاندې د هلمند په نادعلي ولسوالۍ کې په اساسي توگه جوړ شوی او پوخ سړک د وسله والو له لوري د تراکتور په وسیله اړول شوی و. دغه ډول کارونه په نورو ولایتونو کې هم شوي دي، په غزني کې، په وردگو او کندهار کې سړکونه اړول شوي او زیانونه ورته اوښتي دي. په وروستیو وختونو کې ښوونځیو ته هم اور ورته شوی دی او په کندهار کې یو ښوونځي په بمونو الوځول شوی و. دا هغه پېښې دي چې له رسنیو سره یې په اړه معلومات شته، ښایي لسگونه داسې پېښې وي چې رسنۍ ورته لاسرسی نه لري او یا یې په اړه د معلوماتو د خپرولو امکانات نه وي.
دې پېښو ته په کتو د ولسي جرگې ځینې غړي دا د یوه منظم ویجاړوونکي پلان برخه بولي، چې د هېواد د دښمنانو له لوري جوړ شوی دی. د ولسي جرگې غړی عبدالقادر قلاتوال وایي، دا د یوې اوږدې دسیسې برخه ده چې د دې هېواد دښمنانو د پرمختگ د مخنیوي لپاره جوړ کړې ده.
د نوموړي په خبره، په دې سترگې نه شي پټېدلی چې په افغانستان کې له کلونو راهیسې د ابادۍ او پرمختگ ضد جگړه روانه ده او دا هغه څه دي چې د بنسټیزو پروژو او عامه تاسیساتو پر وړاندې تر سره کېږي. نوموړي مسیر ورځپاڼې ته وویل: ((دا واضح خبره ده چې کله مو سړکونه ورانوي، کله روغتونونه په بمونو الوځل کېږي، کله ښوونځي ورانوي، کله فابریکې ورانوي او دا لړۍ نوې نه ده. دا لړۍ له کلونو راهیسې روانه ده، منظم پلان ورته جوړ شوی دی او ستري استخباراتي کړۍ یې تر شا دي)).
قلاتوال همدا راز د دغو ورانکاره فعالیتونو پر دوام د نړیوالې ټولنې پر چوپتیا هم نیوکه کوي. نوموړی وایي، سره له دې چې افغان حکومت وخت ناوخت د طالبانو پر ورانکاره فعالیتونو اندېښنه ښودلې ده، خو تر څنگ یې د نړیوالې ټولنې مسوولیت دی چې د طالبانو یا نورو وسله والو ډلو فعالیتونو ته متوجه وي او د سولې په دې حساسه مرحله کې دې چا ته د افغانستان د ویجاړولو اجازه نه ورکوي. هغه زیاتوي: ((نړیواله ټولنه دا هر څه عملاً پخپلو سترگوویني. دوی ویني چې څنگه د افغانستان عامه شتمنۍ له منځه ځي، خو پر وړاندې یې چوپ دي، د دوی چوپتیا د اندېښنې وړ ده)).
قلاتوال همدا راز د سولې په روانو هڅو کې د جگړې پر ډېرېدو هم جدي اندېښنه ښیي. د نوموړي په خبره، د سولې په مذاکراتو او همدا راز د جگړې په ډگر کې د سیمې او نړۍ استخباراتي کړۍ کار کوي او ستره موخه یې دا ده چې د سولې هڅې سبوتاژ کړي او په افغانستان کې اوسنۍ جگړه دوام وکړي. قلاتوال وایي، دمگړۍ د بهرنیانو د خونړیو لوبو له امله افغانان د ویر پر ټغر ناست دي او ښکېلو لورو ته پکار ده چې روانه جگړه ژر تر ژره پای ته ورسوي.
د ولسي جرگې غړي داسې مهال د عامه او مهمو تاسیساتو پر له منځه وړل کېدو اندېښنه ښیي، چې په ټولنیزو رسنیو کې هم عام افغانان د وسله والو ډلو له لوري د مهمو ټولگټو پروژو پر وړاندې خنډ جوړول، د سړکونو له منځه وړل او عامه تاسیساتو ته زیان رسول غندي او له دوی غواړي چې له ورته فعالیتونو لاس په سر شي.

# ساینسپوهان: که د ځمکې اوسنۍ تودوخه دوام وکړي، نړۍ به له دې اړخه له جدي گواښ سره مخ شي


د هغو ساینسپوهانو چې څه باندې یو کال یې په شمالي قطب کې پر څېړنو تېره کړې، موندنې ښیي چې که د ځمکې د کرې تودوخه همداسې دوام وکړي، څو لسیزې وروسته به شمالي قطب نور کنگل شوی نه وي.
د دغو ساینسپوهانو موندنې په ډاگه کوي چې د شمالي قطب د سمندر یخونه په ویلې کېدو دي او خبرداری ورکوي چې ښایي په څو لسیزو کې به نور د شمالي سمندر اوبه یخ ونه نیسي او نړۍ به د تودوخې له جدي گواښ سره مخ شي.
د نړۍ د شلو هېوادونو په سلگونو دغه ساینسپوهان چې په شمالي قطب کې یې ۳۸۹ ورځې پر څېړنو تېره کړې، اوس بېرته جرمني ته را ستانه شوي دي.
دغو ساینسپوهانو چې د جرمني د الفرید ویگنر د انسټیټیوټ د پولارسټین کښتۍ په ذریعه یې د نړۍ دغه تر ټولو لوی څېړنیز ماموریت ترسره کړی، د اتوموسفیر، سمندر، د شمالي منجمد شوي سمندر او د ایکوسیسټم په اړه یې معلومات راټول کړي، څو پر دې سیمې او نړۍ د اقلیم د بدلون د اغېزو جاج واخلي.
د دغه څېړنیز ماموریت مشر مارکوس ریکس د فرانسپرس خبري آژانس ته ویلي چې ساینسپوهانو یې په دې موده کې په خپلو سترگو ولیدل چې په څه ډول د شمالي قطب یخونه په چټکۍ ویلې کېږي.
هغه زیاته کړې: «د ماتو شویو یخونو پر ټوټو وگرځېدو او ومو لیدل چې دغه پروسه څومره د موږ ورونو ته رانږدې ده.»
ریکس ویلي، په څېړنو کې یې موندلې چې د قطب څومره کنگلونه ویلې شوي، پاتې یې څومره ژر د ویلې کېدو په حال کې دي، یا نازک شوي او څومره ټوټې ټوټې شوې دي.
ساینسپوهانو چې په شمالي قطب کې یې د ۴۰ کیلومترو په شعاع څېړنیز مرکزونه پرانیستي وو، د سمندر د اوبو او د سمندري بوټو او باکتریاوو نمونې راټولې کړې چې ومومي په څه ډول په سمندر کې ایکوسیسټم تر سخت فشار لاندې دی.
دغو ساینسپوهانو له ځان سره د ۱۵۰ تیرابایټو یا ۱۵۰ زره گیگابایټو په اندازه راټول کړي معلومات او د یخونو څه باندې زرټوټې راوړې دي.
د دغه څېړنیز ماموریت مشرمارکوس ریکس خبرداری ورکړی چې که دغه وضعیت په شمالي قطب کې همداسې روان وي، په څومحدودو لسیزو کې به نور په دوبي کې د شمالي سمندراوبه یخ ونه نیسي یعنې نور به سمندر کنگل شوی نه وي او ځمکه به له بې مخینې تودوخې سره مخ شي.
د ساینسپوهانو دغه موندنې د امریکا د سپوږمکۍ له لارې اخیستل شوي تصویرونه هم تاییدوي چې ښیي روان ۲۰۲۰ ز کال د شمالي قطب د یخونو اندازه له ۲۰۱۲ ز کال وروسته په دوبي کې تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلې ده.

## د کتـــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د زمينې برابرول




په راتلونکو څپرکو کې به دولت او دوراني دا توضیح کړي چې دغه کتاب څنګه ولیکل شو او ولې دوی فکر کوي چې دا مناسب کار دی. دوی د استخباراتي افسرانو په توګه د خپل شالید په اړه خبرې کوي او داسې کیسې بیانوي چې نه یوازې د هغوی ملګرتیا پیاوړې کوي، بلکې د هغوی باور پخوي چې د هند او پاکستان ترمنځ ښې اړیکې تر زیانونو ډېرې ګټې لري.

**د صحنې برابرول**

زموږ لومړنۍ ناسته د (۲۰۱۵. ز) کال د مې میاشتې پر (۲۵)مه نېټه د استانبول د زاړه تاریخي ښار په یوه هوټل کې وه. د لومړي ځل لپاره درې واړه د رستورانت د بام پر سر د غرمنۍ لپاره سره یو ځای شوي وو. ملایم لمر له کړکیو خوندوره ځلا کوله او په لرې فاصله کې اوبه ښکارېدلې. جنرال دوراني ماته په داسې انداز کتل، تا به ویل اندازه کوي مې. پیټر جونز له ترکي کباب څخه د ډک قاب له کبله وارخطا و.

۱

**موږ ان که تخیلي کتاب هم لیکلی، هېڅوا به باور نه و وربانديې کړی**

**ادېتیا سېنها: ستا او دولت ترمنځ باور به غیر مسلکي کسانو ته غیر معمولي ښکاره شي. دا باور څنګه رامنځته شو؟**

اسد دوراني: زما د تجربې له مخې، کله چې خلک باوري وي چې دوی د مسلکیانو په څېر له یو بل سره کېني او د نظر تبادله کوي، ډېر کله ستونزه نه رامنځته کېږي. همداراز کله چې موږ خبرې کوو، یو وايي موږ په ځانګړي وخت کې یو ځانګړی حالت داسې تعبیروو، بل وايي، ښه، موږ یې بیا داسې تعبیروو. همدا شی لویې- دوه اړخیزې ګټې لري.

د بېلګې په توګه، کله چې ما د دولت کتاب ولوست، ډېر ګټور او دغه راز توضیح شوي شیان مې په کې پیدا کړل. مثلاً مخالف لوری یوه ځانګړې پرمختګ ته څه ډول غبرګون ښیي.

**سېنها: یو سترګې پرانیستونکی مثال؟**

دوراني: د کشمیر پاڅون. زه د څو کلونو لپاره په بېلابېلو بڼو پکې ښکېل وم. کله چې دا پېښه رامنځته کېده، زه د پوځي استخباراتو مشر وم. موږ په ډېرو معلوماتو پسې ګرځېدو. دا زما د کار برخه نه وه، تر ډېره د بهرنیو اړیکو د دفتر یا د ISI دنده وه. دا واقعه د بې نظیر بوټو د لومړۍ واکمنۍ پر مهال رامنځته شوه، غالباً د (۱۹۹۰. ز)کال په لومړیو کې او هغې له موږ دریوواړو د ارزونو غوښتنه وکړه.

ځينو ویل چې دا واقعه له وړاندې پېښه شوې او دا یې یوازې نوې بڼه ده، چې ښايي ډېر وخت دوام و نه کړي. دا خلک په کشمیر کې له ناکرارۍ خبر وو. البته دغه پاڅونونه تر تمې ډېر اوږده شول. زموږ په اړخ کې نیمګړتیا دا وه، چې کارپوهان نه، بلکې احساساتیان پکې ښکېل وو، ښايي جاهلان وو او ارزونه یې هم معیاري نه وه.

د دولت کتاب وښوده چې مخالف لوري داسې کس درلود، چې لږ تر لږه لس کاله د کشمیر په مسئله کې په بېلابېلو کچو ښکېل و، وړاندې له دې چې د RAW مشر شي. له ده نه غوښتنه شوې وه چې یو څه ترسره کړي او دا موضوع څومره چې ممکنه ده په ښه بڼه مدیریت کړي، چې دغه تمرکز دوام هم وکړ. د شخصیتونو، پوهې، تجربې او ښايي د تګلارې دوام.

زموږ اړخ، پاکستاني اړخ، ډېر کله له دې قضیې سره پېښو ته په کتو چلند کاوه، لکه یو کس ته به چې یو کار مناسب ښکاره شو، که به دا معلومه هم نه وه چې اصلاً څه پېښ شوي او څومره وړاندې تللی شي، اقدام یې کاوه. حتی که یوه کس تر ټولو غوره لاره هم موندله، حکومت به بدلېدو، افراد به بدلېدل او حتی تګلاره به بدلېدله، له همدې کبله دوام نه رامنځته کېده. یوازې د دولت د کتاب لوستلو دا را وښودل. هغوی ته چې دی یې پېژانده او په بل لوري کې له واکمنۍ خبر وو، دا ډېره د حیرانتیا خبره نه وه.


زما په یاد دي چې په پوځي استخباراتو کې یو کس راته وویل، چې په جمو سیمه کې یو ډګرمن د (۱۵) یا (۱٦)کلونو لپاره ګومارل شوی و، خو دنده مې یې په یاد نه ده. ما غوښتل چې هغه استخدام کړم. هغه ښايي زموږ په اړه زموږ تر خلکو ډېر پوهېده، ځکه زموږ په لوري کې ژر ژر بدلونونه رامنځته کېدل. دا ښايي په سیستم پورې اړه ولري.

**سېنها: له دې کتاب نه مو تمه څه ده؟**

چې په ښکاره یې ووایم دا نظریه د امرجیت وه. هغه وویل چې راځئ کتاب ولیکو. موږ ګډې استخباراتي پروژې پلې کړې وې. لومړی یې په (۲۰۱۱. ز)کال په برلین کې د پګواش تر کنفرانس وروسته وه او هغه یوه ښه تجربه وه. دویمه په (۲۰۱۳. ز)کال کې د کشمیر په اړه یوه ګډه مقاله وه چې د اوتاوا پوهنتون خپره کړه او ډېره هڅوونکې وه. **دوام لري...**

# مه وېرېږئ؛ پیل یې کړئ

◀ اکسوس کتابپلورنځي




د کتاب لیکوال وايي: په ۲۰۰٦ میلادي کال کې د کتاب نړیوالې ورځې د مراسمو پر مهال له ما څخه وغوښتل شول، څو د (مه وېرېږئ، پیل یې کړئ) کتاب ولیکم. موخه دا وه چې د لوستونکو لپاره ګټور او الهام بښونکي مطالب ولیکم، څو هغوی د لا ډېرو کتابونو لوستلو ته وهڅول شي.

د دغه کتاب لومړنی چاپ زما د تمې خلاف په زیاته کچه وپلورل شو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شو. دغه کتاب په سوېلي افریقا کې د ډېر پلورل شوي کتاب لقب تر لاسه کړ او همدارنګه په استرالیا کې د غوره کتابونو په ډله کې راغی. د مینه والو لخوا د دغه کتاب د زیاتې ستاینې او خوښولو له کبله له ډېرې خوشالۍ څخه په جامو کې نه ځایېدم. ډېرو کسانو لیکونه راته واستول او ویل به یې چې دا کتاب د هغوی لپاره یو ښه لارښود او الهام بښونکی و. له دې سره مې دې ته هم پام شو چې کتاب یوازې د نویو لوستونکو د پام وړ نه، بلکې د پخوانیو مینه والو او کتاب لوستونکو د خوښې وړ هم ګرځېدلی دی.

یو کال وروسته له ما وغوښتل شول څو د کتاب دویم چاپ هم خپور کړم او په مطالبو کې یې زیاتونه وکړم څو په زیاته کچه خلک ترې برخمن شي. د کتاب په دویم چاپ کې د ژوند ټول لومړني درسونه او ډېر هغه مطالب چې راتلونکي ته یې کتنه درلوده، خپاره شول.

د کتاب د لیکلو پر مهال مې له تمې او ارادې پرته ډېر اړین درسونه او موضوعات زده کړل. د درسونو زده کړه هغه وخت پیل شوه کله چې ماشوم وم. زده کړې مې په ښوونځي کې پیل شوې، خو دوام یې د سوداګرۍ په برخه کې و. زه لا هم د زده کړو په حال کې یم او هېڅکله به د درس او زده کړې دوام ته د پای ټکی کې نږدم. دغو درسونو د ژوند په ټوله موده کې له ماسره مرسته کړې ده او هیلهمن یم چې تاسو هم د دې کتاب په لوستلو سره داسې مطالب تر لاسه کړی، چې ستاسو لپاره الهام بښونکي او ګټور وي.

په دې کې شک نشته چې موږ غواړو د نورو سوداګرو او شرکتونو خلاف خپل کارونه په منظم ډول او په پاک نیت سره سرته ورسوو او دا هغه څه دي چې تل زما لپاره ګټور او اغېزناک تمام شوي دي. زه یو زیارکښه انسان یم، خو په زیاته کچه تفریح او لوبې هم کوم. زه د موخې په درلودلو باور لرم. د هیلو درلودل هېڅکله ناسمه ځانګړتیا نه ده، خو زه تل د عملي هیلو او غوښتنو په اړه فکر کوم. زه د هغه څه په اړه چې ناشوني دي، فکر نه کوم. زه د ځان لپاره موخې ټاکم او وروسته یې د لاس ته راوړو لپاره لارې لټوم. کله چې د یوه کار د تر سره کولو هوډ کوم، په سمه توګه یې پای ته رسوم. په کارونو کې مې هېڅکله شک او دوه زړيتوب نه کوم. په ښوونځي کې لیکل او لوستل راته سخت وو. هغه مهال مې د لوستلو په برخه کې د ستونزې لامل لا نه و مشخص شوی، په همدې اساس به ښوونکو فکر کاوه چې زه ټنبل یم. همدا علت و چې تل به مې مطالب په یادو یادول. اوسمهال ښه حافظه لرم او د یوې ښې وسیلې په توګه ترې ګټه اخلم.

له کومه وخته مې چې د «ویرجېن» ټولنه رامنځ ته کړې، یانې له ۱۹٦۷ کال را پدېخوا مې ډېر کارونه تر سره کړي دي. موږ یو کوچنی شرکت و چې په تدریجي ډول سره رالوی شوو. زموږ وده او پرمختګ په ډېرو برخو کې لکه د څښناک تولید، د ناویو جامې، موبایل ټلیفونونه، کتابونه، مجلې، د کارتوني او ګرافیکي فلمونو تولید، الوتکې، هوایي شرکت، د ګاډي پټلۍ او ان تر فضایي سفرونو پورې؛ دا هر څه دومره لوی او سخت نه دي چې لاسرسی ورته ناشونی وي. زه له دې امله چې زموږ ټیم په پوره مینه خپل کارونه تر سره کوي، پر ځان ویاړم. د دې هرڅه په اړه مې اغېزمنې لارې چارې درسره په همدې کتاب کې شریکې کړې دي.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | اسانه لمونځ او څلوېښت مسنونې دعاوې | محمدعاشق الهي/عبدالله ګل ریان | ۵۰؋ |
| ۲ | د ښه ژوند کولو هنر | نصیر احمد کمال | ۸۰؋ |
| ۳ | روغتیا او ښکلا | عبدالولي اعتماد | ۱۰۰؋ |
| ٤ | اجتهاد او تقلید | محمد محمدي کندهاري | ۱۸۰؋ |
| ۵ | زموږ غښتلي | عبدالقیوم معلم | ۱۵۰؋ |
| ٦ | پټه خزانه | عبدالحي حبیبي | ۱۰۰؋ |
| ۷ | جنسي ارواپوهنه | ډېوېډ ام باس/نجیب احمد عزیزي | ۲۸۰؋ |
| ۸ | ستراتیژیک مدیریت | فرید آر ډېوېډ/میراحمد یاد | ۳۷۰؋ |
| ۹ | بریالی فکر | جان مکسویل/اسماعیل آشنا | ۲۵۰؋ |
| ۱۰ | فکري نوښت | قدیرالله تسل | ۱۰۰؋ |
| ۱۱ | ټولنیزې وړتیاوې | توني باز/جاني خېل سیال | ۱۵۰؋ |
| ۱۲ | ټولنیز نزاکتونه | ذاکر نایاب | ۱۵۰؋ |
| ۱۳ | د نوې سیاست پوهنې بنسټونه | حسین بشیریه/ګل الرحمن رحماني | ۲۸۰؋ |
| ۱٤ | د نه ویلو هنر | دیمون زاهار یادس/تاج موسسه | ۱۳۰؋ |
| ۱۵ | د ژوند ۱۳ رازونه چې باید زده یې کړئ | لېوېنکسټون/حمیدالله حمیدي | ۱۰۰؋ |
| ۱٦ | د ځان هڅولو سل لارې | سټیو چاندلر/خوشحال وارث | ۲۲۰؋ |
| ۱۷ | بازار موندنه | برایان ټرېسي/امین جلالزی | ۷۰؋ |
| ۱۸ | د مدیریت هنر | عطا محمد میاخېل | ۱۳۰؋ |
| ۱۹ | مه وېرېږئ پیل یې کړئ | ریچارد برانسون/صفی الله پادشاه | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | د سهار وختي پاڅېدو اغېز | هال الرود/امان الله حنیفي | ۱۷۰؋ |
| ۲۱ | د قدرت ۴۸ قوانین | رابرت ګرین/وصیل پیروز | ۱۲۰؋ |
| ۲۲ | د ژوند لوبه | فلورانس اسکاول شین/لعل الدین عاطف | ۲۰۰؋ |
| ۲۳ | هیلې مو پر رښتیا بدلې کړئ | جان مکسویل/امان الله حنیفي | ۲۲۰؋ |
| ۲٤ | له موجه تر اوجه | مسعود لعلي | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | شین سهار | رابېن شرما/محمد نواب خوښ | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | اتومي عادتونه | جیمز کلیر/اسماعیل آشنا | ۲۰۰؋ |
| ۲۷ | اصول محاکمات جزایی افغانستان | محمد تواب منان | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | منټو لنډې کیسې | سعادت حسن منټو/منتشرشاهي | ۱٤۰؋ |
| ۲۹ | ایګزیټ بینک | احمدالله عزیزي، فرهاد نوري | ۳۸۰؋ |
| ۳۰ | د علي بابا نړۍ | پورتر اریسمن/محمدحامد اکبري | ۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ     اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۵ |
| € | ۸۹,۷۰ |
| Rp. | ٤۷۲ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۸،۴۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# له رواني سټریا څنګه ځان وژغورو؟

ژباړه: یونس حبیبي

که ذهني فشار لرئ، اضطراب، سټریا او یا د ماتې احساس کوئ او نور دا هر څه درته له زغمه وتلي دي، نو دلته ځینې حل لارې شته چې څنګه خپل احساسات کنټرول، ځان او روان مو هوسا کړئ.

خپه یی او ځورېږئ؟ سټړي شوي یئ؟ د ماتې احساس کوئ؟ روان مو ځپل شوی او فکر کوئ چې له دغو جنجالونو یو چېړې تښتېدلي وای؟ همدا اوس پخپل کار کې له ذهني سټریا سره مخ یئ؟ په کور کې څنګه؟ په کورني ژوند کې هم دومره ډېر کارونه وي چې هېڅ خلاصون ترې ممکن نه وي. که داسې ګڼو فشارونو مو ذهن نیولی وي، نو دا رواني سټریا او نارامي ده.

خو ډارېږئ مه، وپانده او ډاکټره رادها موډجېل ځینې داسې مهمې لارښوونې درته لري چې تاسې ښېرته ورکه کړې لار پرې موندلی شئ او پر دې رواني څپې وار له مخه پوهېدلی او مخه یې نیولی شئ.

**رواني نارامي یا سټریا په اصل کې څه ده؟**

ډاکټره رادها موډجېل وایي، په ژوند کې ځینې پېښې یا د یوه لوی بدلون رامنځته کېدل هم رواني نارامي او سټریا پیدا کولی شي. د رواني نارامۍ یا سټریا اصطلاح لومړی ځل په ۱۹۷۴ ز کال کې هربرټ فریډنبرګر په یوه څېړنیزه مقاله کې وکاروله. هغه دا د روحي او جسمي سټریا حالت وباله چې یو چا ته د خپل کاري یا مسلکي ژوند پر مهال پېښېدلی شي. دا مختلف ډولونه لري چې یو هم پکې د دندې پر مهال د خپلو وړتیاوو د اثبات لپاره پرخپل ځان جبر کول هم پکې راځي.

د ډاکټرې موډجېل په خبره، د داسې ذهني نارامۍ پر مهال موږ فکر کوو چې له یوه ډېر سخت او اوږدمهاله ذهني فشار سره مخ یو او دا حالت مو نه پرېږدي چې د ژوند له ننګونو سره مقابله وکړو.

خو د اغلې موډجېل برعکس هربرټ فریډنبرګر پر دې باور دی چې دا ډول نارامۍ یوازې د دندې یا کار له کبله نه، بلکې د مختلفو نورو لاملونو لامله هم یو چا ته ورپیدا کېدلی شي.

**دا څه ډول یو احساس وي؟**

ډاکټره موډجېل د ستونزو او فشارونو د ګاللو لپاره د انسان د زغم کچه د موبایل له بېټرۍ سره پرتله کوي. اغلې موډجېل وایي، د انسان د ذهني یا رواني سټریا حالت داسې یو وضعیت دی، لکه ستاسې د موبایل بېټرۍ چې چارج خلاص کړي. بیا نو تر هغه نور کار نشی ترې اخیستلی چې بیا یې چارج نه کړی.

د ډاکټرې موډجېل په خبره، د رواني سټریا پر مهال ښایي تاسې حس کړی چې له ژونده سټړي شوي یی او نور هېڅ زغم نه دی درپاتې، یاني ذخیره (بېټرۍ) تشه شوې ده.

ښایي تاسې د داسې خویونو لرونکی انسان وی چې په دفتر او عام ژوند کې به مو له مختلفو ستونزو او سختو حالاتو سره ښه په زغرده مبارزه کړې وي، خو دا ځل به لړه سخته درته ښکاري.

ډاکټره موډجېل دا ځل د زغم کچه د اوبو له سطل یا بالټۍ سره مقایسه کوي او وایي، که نور وختونه مو له ستونزو سره په بریالیتوب سره مبارزه کوله، خو دا ځل یو څه سخته درته ښکاري، نو دا د دې نښه ده چې د خپل رواني حالت د ښېرته کابو کولو په برخه کې دا ځل یو څه کمزوري لرئ. یانې ستاسې د احساساتو یو سطل لړ تش شوی دی.

داسې وانګېرئ چې تاسې یو سطل د دفتر لپاره لرئ او بل د کور لپاره، نو که له دواړو څخه یې په یوه کې اوبه کمې وي، خو هغه بل تر خولې پورې ډک وي، نو تاسې مبارزه کولی شئ، خو که د دواړو ذخیره کمه وي، بیا نو خبره له کنټروله وځي او ستونزه یا همدا ذهني نارامي رامنځ ته کېږي.

دغه ډاکټره وایي چې خپلو احساساتو ته باید ډېر پام وکړو او بیا هم د رواني اختلالاتو ګالل د موبایل له بېټرۍ سره پرتله کوي. لکه د خپل موبایل د بېټرۍ خیال چې ساتئ، دغسې مو د احساساتو بېټري هم ډېر پام ته ضرورت لري. تاسې باید ځان وپوښتئ چې څنګه ښېرته انرژي یا چارج اخیستلی شئ؟ یانې باید څه وکړئ چې ارامه او ښېرته نارمل شئ؟

**دا ستونزه له څه شي پیدا کېږي؟**

ډاکټره موډجېل وایي، د ژوند یو لوی بدلون یا پېښه یو چا ته رواني یا ذهني نارامي ور اچولی شي. د دې په خبره، ښایي یو چا ته د مالي تاوانونو او یا هم زړه ته نږدې کس سره د اړیکې تر پرې کېدو وروسته دا ستونزه پیدا شي. همدا راز له ځینو نورو ذهني فشارونو سره د مخ کېدلو له کبله هم ښایي یو څوک پرې اخته شي، لکه د دندې له لاسه ورکول، د کور پرېښودل یا بدلول او یا هم ازموینو ته اندېښنه، نو اوس د حل لار څه ده چې څنګه په خپل ځان کې دا وړ ناراموونکي احساسات کنټرول کړو او ځان له ذهني سټریا وژغورو؟

د رواني نارامۍ یا سټریا د مخنیوي ځینې لارې چارې:

ډاکټره موډجېل وایي:


- پر ځان زړه وسوځوه او د خپل زړه او فکر خبره واوره چې څه غواړي؟
- د ژوند پر هغو کارونو فکري تمرکز ډېر کړه چې ښه او سم روان دي.
- له هغو ملګرو سره ډېره ناسته ولاړه او راشه درشه وکړه چې ته ورسره خوشاله کېږې.
- هره ورځ ورزش وکړه.
- هغه کارونه وکړه چې خوښېږي دې، هماغو ته لومړیتوب ورکړه.
- د خپلې خوښې سندرې او موسیقي واوره.
- خوب دې پوره کړه او له بې خوبۍ ځان وساته
- دا خویونه خپل کړه او په ورځني ژوند کې یې وپاله. پرې یې نه ږدې، هسې نه پښېمانه شې او وخت تېر وي.
- ډاکټره رادها موډجېل هیله منه ده چې د دې وړاندیز کړې لارې چارې به د ذهني نارامۍ په ختمولو کې مرسته وکړي. هغه همدا راز په دې باور ده چې که موږ د خپل ژوند د احساساتو بېټریو ته هماغسې هره ورځ پام وکړو لکه د خپل موبایل بېټریو ته یې چې کوو، نو د خپلې رواني روغتیا په برخه کې به ډېر لوی توپیر او پرمختګ حس کړو.

# وېلسن: پر هلمند د طالبانو بریدونه د سولې هوکړې خلاف دي، ژر تر ژره دې ودرول شي

په کابل کې د امریکا شارژدافیر راس وېلسن پر وسله والو طالبانو غږ کړی چې پر هلمند ولایت بریدونه ودروي. وېلسن پر خپل ټویټر لیکلي چې وسله وال طالبان باید پر هلمند ولایت د بریدونو په درولو سره د امریکا او طالبانو د سولې هوکړې ته درناوی وکړي.

نوموړي زیاته کړې چې ټول لوري باید باوري شي چې د سولې خبرې د جګړې د پای ته رسېدو په موخه پر سم لور روانې دي. هغه ویلي چې د تاوتریخوالي زیاتوالی د منلو نه دی او د خلکو د ژوند د خرابېدو لامل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د هلمند پر مرکز د طالبانو برید لاهم دوام لري او د دغه ښار په شنډو اوس هم جګړې او



پرمهال ۲۳ وسله وال طالبان وژل شوي او شپږ نور ټپیان شوي دي.

نښتې روانې دي.

د هلمند والي جنرال محمد یاسین پر خپل فېسبوک لیکلي چې کوماندو او د ملي امنیت ځانګړو ځواکونو د هلیکوپټرو پر مټ د نادعلي ولسوالۍ، باباجي سیمې او پر ۶۰۱ شهرا پوځي عملیات پیل کړي دي. هغه زیاته کړې چې د یادې جګړې

د نوموړي په خبره، افغان امنیتي ځواکونو پرمختګ کړی او پر لښکرګاه ښار د طالبانو د برید مخه هم نیول شوې ده. د هلمند والي زیاته کړې: «زموږ امنیتي او دفاعي ځواکونه د پرمختګ په درشل کې دي او پر لښکرګاه ښار د وسله والو طالبانو برید مات او په شا تمبول شوی چې اوس زموږ ځواکونه پر تصفیې او د هغو سیمو په ښېرته نیولو بوخت دي چې څو ورځې وړاندې پکې امنیتي او دفاعي ځواکونو شاتګ کړی و.»

د سیمه ییزو چارواکو په وینا، د یادې جګړې له امله ۵۰۰۰ کورنۍ بېځایه شوې، مخابراتي شبکې او د برېښنا هم پرې شوې ده. بلخوا په افغانستان کې مېشتو بهرنیو ځواکونو هم ورمه ورځ په هلمند کې پر طالبانو هوایي بریدونه کړي دي.

بهرنیو ځواکونو په هلمند کې د طالبانو برید د امریکا او طالبانو د موافقې خلاف بللی دی، خو وسله والو طالبانو تر دې مهاله په دې اړه تبصره نه ده کړې.

# سیمه‌ییز چارواکي: په هلمند کې د جګړو له کبله بې ځایه شوې کورنۍ بېړنیو مرستو ته اړتیا لري

د هلمند سیمه‌ییز چارواکي وایي، د افغان ځواکونو او طالبانو تر منځ د جګړې له امله د دغه ولایت په مرکز لښکرګاه کې له پنځو زرو ډېرې کورنۍ له خپلو کورونو بې‌ځایه شوې دي.

د دغه ولایت سیمه‌ییز چارواکي وایي چې یادې کورنۍ خوراکي او غیر خوراکي بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. د هلمند د کډوالو چارو رییس محمد رامین ازادي راډیو ته ویلي، چې ډېرې دغه کورنۍ د لښکرګاه ښار په نورو سیمو کې ځای پر ځای شوي او په خبره یې، شمېر یې مخ پر ډېرېدو دی.

هغه زیاته کړې: «په تېرو څو ورځو کې ۵۱۰۰ کورنۍ له خپلو کورنو بې‌ځایه شوي او دا رقم د لوړېدو په حال کې دی، دوی ته د سرپناه موضوع ډېره جدي ده، تر اوسه پورې یوازې د ښځو ریاست یو



مارکېټ زموږ په واک کې راکړی او خلکو د خوراکي توکو مرسته کړې، خو بل بنسټ تر اوسه پورې په دې برخه کې مرسته نه ده کړې.»

د رامین په خبره، دمګړۍ خلک او سوداګر په دې برخه کې لاس په کار شوي چې بې‌ځایه شویو ته لومړنۍ مرستې ورسوي، خو په خبره یې، د سرپناه او خوراکي توکو ستونزه ډېره جدي ده چې باید ورته پام وشي.

دا په داسې حال کې ده چې په لښکرګاه کې له جګړې پنځه ورځې تېرېږي، طالبان ادعا کوي، چې د باباجي او بولان سیمې او د نادعلي او ناوې ولسوالۍ ځینې برخې یې نیولې دي.

په داسې حال کې چې د هلمند د کډوالو چارو ریاست بې ځایه شویو ته د مرستو نه رسېدو له امله اندېښنه لري، طبیعي پېښو ته د رسېدنې په چارو کې د دولت وزارت وایي، د موقتي کمپونو په جوړېدو بحث روان دی او د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو رسولو لړۍ به هم پیل شي.

د دغه وزارت ویاند احمد تمیم عظیمي ویلي: «موږ په لښکرګاه ښار کې په یو خوندي ځای کې په یو موقت کمپ بحث کوو، چې هلته بې ځایه شویو ته د هلمند ولایت پېښو ته د رسېدنې چارو ریاست له خوا خوراکي او غیر خوراکي توکي ووېشل شي.»

د عظیمي په وینا، له دې وړاندې لښکرګاه ته د پېښو سره د مبارزې په موخه اووه میلیونه افغانۍ هم استول شوې وې.

په ورته وخت کې د افغانستان د بشري حقونو سازمان مشر لعل ګل لعل وایي، د جګړې ښکېلې غاړې دې جنګ ودروي او د جګړو پر مهال یې د ملکیانو خوندیتوب ته نه پاملرنه جنګي جرم بللی دی.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com
WAYGAL PRINTING CO

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۴مه | ۶۱۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۲۵ | ۲۷ | ۲۵ | ۳۱ | ۲۶ |
| ۸ | ۹ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۶ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۳۴ | لمر ختل ۰۵:۵۶ | ماسپښين ۱۱:۴۰ | مازیګر ۰۲:۵۴ | ماښام ۰۵:۲۳ | ماخوستن ۰۶:۴۶

## نړۍ




## اروپايي ټولنه: که روسیه او بېلاروس اوسنیو کړنو ته دوام ورکړي، سخت بندیزونه به پرې ولګول شي



اروپايي ټولنې د بېلاروس او روسیې پر وړاندې د احتمالي بندیزونو خبرداری ورکړی دی. د دې ټولنې چارواکي وايي، د دغو دواړو هېوادونو پر وړاندې د دوی زغم د اداري فساد او د ډیموکراسۍ د نشتوالي له کبله پای ته رسېدو ته نږدې دی.
د اروپايي هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په لوګزامبورګ کې په یوه غونډه کې وویل چې په بېلاروس کې د اګسټ ټاکنې ازادې او عادلانه نه وې. دوی دغه راز د بېلاروس د اوسني ولسمشر الکساندر لوکاشینکا پر وړاندې د احتمالي اقداماتو خبرداری ورکړ او د هغه په اړه یې ویلي چې ډیموکراتیک مشروعیت نه‌لري. اروپايي چارواکو همداراز د جرمني او فرانسې د هغه وړاندیز ملاتړ کړی چې وايي د کرېملېن د منتقد الکسي ناوالني د مسمومولو په خاطر دې د روسیې پر رژیم نور بندیزونه ولګول شي. مسکو په دې قضیه کې لاس درلودل رد کړي او وايي چې ناوالني نه‌دی مسموم شوی.
په ورته وخت کې د راپورونو له مخې، د بېلاروس د کورنیو چارو وزارت د لاریون کوونکو او پولیسو ترمنځ د نښتو په دوام تازه امر کړی چې پولیس پر لاریون کوونکو د برید حق لري او پر وړاندې یې جنګي وسلې کارولی شي. تر دې وړاندې د بېلاروس پولیسو د لاریون کوونکو پر وړاندې یوازې له اوښکې بهوونکي ګاز او د اوبو له شیندلو استفاده کولی شوی. په ډېرو مواردو کې یې په پلاستیکي ګولیو هم پر لاریون کوونکو ګوزارونه کول، خو اوس تازه پرېکړه شوې چې پولیس د لاریون کوونکو پر ضد جنګي وسلې کارولی شي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر یو میلیون او ۸۶ زره او ۶۵۰ ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۳۸ میلیونه او ۱۲۱ زره او ۶۵۰ ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۸۶ زره او ۶۴۰ کسان مړه شوي او نږدې ۲۹ میلیونه تنه بېرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې اته میلیونه او ۳۸ زره او ۵۴۳ ته رسېدلي او ۲۲۰ زره او ۲۷ نور امریکایان یې مړه کړي دي. له امریکا وروسته هند د کرونا وبا د اووه میلیونه او ۱۷۹ زره او ۶ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۱۰۳ زره او ۴۰۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ۳۲۶ زره او ۱۷۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او کولمبیا د ۹۱۹ زره او ۸۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.
هسپانیا، ارجنټاین، پېرو، مکسیکو او فرانسه په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ریاست صحت عامه: هفتهٔ گذشته بیش از ۱۵۰ شاگردان و معلمین در ولایت هرات به ویروس کرونا مبتلا شده‌اند



مقام‌های ریاست صحت عامه هرات می گویند که در یک هفتهٔ گذشته بیش از ۱۵۰ دانش آموز و آموزگار در این ولایت به ویروس کرونا مبتلا شده‌اند.
به گفتهٔ رئیس صحت عامه هرات بیش از چهل درصد آزمایش کرونای دانش آموزان مشکوک به ویروس کرونا در این ولایت مثبت است. در همین حال به علت نبود جای در مکتب‌های هرات، از ۳۵ تا ۶۰ دانش آموز در یک صنف مصروف درس خواندن استند. شماری از دانش آموزان در هرات نگران شیوع ویروس کرونا در صنف های شان استند و از دولت می خواهند که تدابیر بیشتری را از بهر جلوگیری از شیوع ویروس کرونا در مکتب‌ها روی دست بگیرد.
عبدالحکیم تمنا، رئیس صحت عامه هرات در این باره گفت: «در هفت روز گذشته ما ۳۸۶ سپمل از مکاتب هرات جم کردیم که اکثرا شاگردایه و یک تعداد هم معلم ها است، متاسفانه ۱۵۶ واقعه مثبت در او پیدا کردیم.»
الهام، یک دانش آموز در این باره گفت: «نگرانی زیاد وجود داره در تمام صنف ها، توجه خاصی دولت در ای راستا باید داشته باشه، بری مکاتب بری وزارت معارف تا که تمام شاگردا مصوون بمانند از ویروس کرونا.»
مسئولین می‌گویند که به علت کمبود صنف‌های درسی ده‌ها دانش آموز ناگزیر استند در کنارهم در یک صنف درس بخوانند. رعایت نشدن فاصله‌های فزیکی در میان دانش آموزان در مکتب های هرات نگرانی از شیوع بیشتر ویروس کرونا را در میان این دانش آموزان بر انگیخته است.


## ژوند

## هغوی چې ډېرې پیسې ګټي؛ څنګه فکر کوي؟



مک اینټایر وايي، کارنده مدیران د دې لپاره چې بریا، شتمنۍ او ارامۍ ته ورسېږي، ځینې خاص فعالیتونه کوي.
د څېړنو له مخې، هغه کسان چې اوس شتمن دي او هغه چې په یوه ګوله ډوډۍ پسې ټوله ورځ سرګردانه وي، د پیسو ګټلو په اړه بېلابېل ذهنیتونه لري. دا چاره موږ ته ځینې رازونه په ګوته کوي.
زموږ اقتصادي بریا تر ډېره په هغو باورونو پورې تړلې ده چې موږ یې د پیسو په اړه لرو. که مو د پیسو په اړه خپل باورونه محدود وساتل، هغه ده چې ټول عمر به مو په دې کې تېر شي چې د زرو افغانیو ګټل نو ولا لویه خبره ده او که همدغه زر افغانۍ وګټو بیا د یوې اونۍ لپاره د نورو پیسو د ګټلو هڅه نه کوو.
همدا باورونه د دې لامل کېږي چې د مالي ازادۍ لوړې څوکې ته له رسېدو پاتې شو.

## له غږ څخه دوه چنده چټکه الوتکه



بوم سوپر سانیک د نړۍ تر ټولو چټکې الوتکې معرفي کولو لپاره د پام وړ پرمختګ کړی او خپله ازمېښتي الوتکه اېکس بي۱ یې معرفي کړې ده. د دې الوتکې د معرفي کولو په غونډه کې د دې کمپنۍ اجرایوي مشر وویل چې موږ دلته د هوایي سفر د نوي دور پیلولو لپاره سره راټول شوي یو. اېکس بي۱ نومې دغه الوتکه کې ۳ برېښنايي ماشینونه ورکړل شوي چې ۱۲۰۰۰۰ پاونډه ترست تولیدوي. دغه کمپنۍ غواړي د سوپر سانیک سوداګریزې الوتنې له سره پیل کړي. دغه الوتکه له غږ څخه دوه چنده چټکه ده او له لندن څخه نیویارک ته الوتنه یې یوازې ۳ ساعته او ۱۵ دقیقې وخت نیسي. دا په داسې حال کې ده چې د دغو دوو ښارونو تر منځ عادي الوتنې ۱۴ ساعته وخت نیسي. دغه الوتکه اوسمهال ازمېښتي پړاو کې ده او کېدای شي ۲۰۲۱ کال کې خپله لومړنۍ تجربوي الوتنه تر سره کړي. سوپر سانیک کمپنۍ وایي چې دغه الوتکه به په راتلونکې یوه لسیزه کې سوداګریزې الوتنې پیل کړي او سرعت به یې یو ساعت کې ۱۷۰۰ میله وي.

عزيزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزيزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af 1515

